# لسم لېکچر کره کتنه {تنقید}
## دريم سمسټر

## پښتو ډيپارټمنټ

## يونيورسټي آف بلوچستان

# مارکسي تنقید.

دا کره کتنه د مارکس په نامه سره شهرت لري دا کره کتنه په

لومړی سر کښني د سوشلزم سره تړلې وه د وخت سره و

ادب ته د باقاعده د یو نظریې په صورت داخله سوه.

مارکسي کره کتنه یو خواته و تاریخي او و نفسیاتي کره کتني

ته نزدې ده خو په مارکسي تنقید کښني د سماجي نفسیاتو

اصلاح او انسان په انفرادي توګه چي کوم رجحانات پيدا کوي د

هغو سره سره مجموعي انساني نفسيات تر څېړني لاندي راولي

"د مارکسی تنقيد اصطلاح د کارل مارکس سياسي او فلسفيانه

تصوراتو سره تړلې شوې ده او کارل مارکس خپل دغه

تصورات د اشتراکي نظام د سيوری لاندي پيش کوي "

حنيف خليل تنقيد په پښتو ادب کښي ص ۷۵

په عمومي توګه موږ وئیلائ سو چي عمراني او تاریخي تنقید
د سماج سره د دلچسپۍ درلودلو باوجود په خپله د سماج د
تشکیلولو په محرکاتو کښي کار نه کوي .د دې برعکس
مارکسي نقاد د سماج جائزه اخلي او د جائزه اخستلو وورسته
د معاشرې د تشکیلولو هڅي کوي
مارکسي نقاد په ټولنه کښي د طبقاتي شعور خبره کوي هغه په
په فنپاره کښي په مخصوصه توګه د طبقاتي شعور تصور

پیدا کوي مارکسي ناقد په څه کښي د ټولنیز طبقاتو د په
ګوته کولو هڅه کوي
په مارکسي تنقید کښي د داب د مطالعې د پاره سماجي حالات
طبقاتي تقسیم او د تاریخ کتنه انتها درجه ضروري ده ځکه د
دې بغیره مارکسي نقاد و خپل هدف ته ځان نه سي رسولاۍ.
په اصل کښي دغه نظریه په ادبیاتو کښي د سرمایه دارانه
نظام په ضد خبره کوي

# اسلوبياتي تنقيد .

د ادب په تخليق کښي درې شيان ډېر مهم دی ژبه خيال او تکنيک

په دې درو شيانو کښي چي يو هم کمزوری وي هغه تخليق بيا

د معيار و پيمانې ته ځان نه سي رسولاۍ .

اسلوبياتي نقاد د فنپارې مطالعه په ژبني نکته نظر کوي

د دې ناقد د سماج ‘تاريخ’تاثرات’نفسيات او د طبقاتو سره هڅ اړه

نسته بلکي يوازي او يوازي ټول نظر يې په فنپاره کښي پر ژبه باندي وي

“د اسلوبیاتي کره کتنې بنیاد پر ژبپوهنه باندې پروت دی

اسلوبیاتي کره کتونکي د ادب په تحسین و تفهیم تش د ژبنې

نکاتو پورې ځان محدود ساتي ....................

په لنډو ټکو کښې به دا ووایو په تخلیق کښې چې ژبنې اړخ

تر څېړنې لاندې راولې دې ته اسلوبیاتي کره کتنې وائي”

ډاکټر نصیب الله سیماب  د کره کتنې اصطلاحات ص۶۲

اسلوبياتي کره کتني کار په ادب کښي اسلوب او ژبه کتل دی

چونکه په ادب کښي بيا په خاصه توګه په تنقيد کښي پر يوه

يوه نکته لاانتها بحث پر سوی او پرکيږي

په مختصره توګه به دا و وايو چي اسلوبياتي کره کتنه په فنپاره

کښي صرف او صرف ژبه او د ژبي سره تړلي لوازمات باندي

نظر ساتي

په درناوي                    پائ